DAILY
اراده
۶۷۹
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

PROPERTY OF ACKU

درې تنه امريکايي سرتېري ووژل شول

د ناټو په مشرۍ نړيوالو سوله ساتو ځواکونو د افغانستان په سوېل کې د وسلوالو طالبانو په يوه مخامخ بريد کې د خپلو دريو سرتېرو د وژل کېدو خبر ورکړ.

په کابل کې د ايساف ځواکونو د مطبوعاتي دفتر لخوا د مرغومي پر ۲۱مه، په يوه خپره شوې خبرپاڼه کې ويل شوي، چې دغه سرتېري يې پرون له غرمې وروسته وژل شوي دي.

سرچينې زياته کړې، چې د دوی امريکايي سرتېري پر ګزمې بوخت وو، چې د وسلوالو مخالفينو له بريد سره مخ شول. ۳مخ

لسم کال - دويمه دوره، ۶۷۹مه گڼه، پر له پسې گڼه ۱۷۴۷د ۱۳۸۸ ل ـ د مرغومي ۲۲ مه - د سه شنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د محرم الحرام ۲۶ مه د ۲۰۱۰ د جنورۍ ۱۲ مه

آموزش نیروهای افغان، با واقعیت های منطقهٔ جنگ هماهنگی ندارد

یک روزنامهٔ فرانسوی در شمارهٔ دیروز خود نوشت، نحوهٔ آموزش نیروهای محلی افغان، با واقعیت های منطقهٔ جنگ هماهنگی ندارد.

فیگارو چاپ پاریس با ابراز این مطلب افزود، که این روزنامه معلوماَت خود را در اَین زمنیه از گزارش محرمانهٔ یک افسر رابط نیروهای بین المللی به دست آورده است. دراین گزارش آمده است، نحوهٔ آموزش نیروهای محلی افغان، با واقعیت های منطقهٔ جنگ هماهنگی ندارد؛ آنها در واقع، به سبک آموزش در ارتش های غربی و به ویژه انگلوساکسون آموزش می بینند.

این افسر استخباراتی نیروهای ائتلاف در افغانستان، در تماس با این روزنامهٔ فرانسوی، دریک ارزیابی کلی، براین نکته تکیه می کند که نیروهای بین المللی تا کنون قادرنبوده اند، عملیات خود را با الزامات محلی و منطقه یی افغانستان هماهنگ نمایند.

به نوشتهٔ فیگارو، این افسر استخباراتی، که نخواسته نامش فاش شود، درگزارش خود به عنوان نمونه یی از عملکرد نیروهای بین المللی در افغانستان می گوید، افراد جوان داوطلب خدمت در کندک های مسلح افغان به کابل دعوت می شوند؛ بدون اینکه برای آنها محل اقامت و اسکان تهیه شده باشد، در پی حضور در قطعهٔ آموزشی لکچرنوت های ضخیم آموزشی در اختیار آنان قرار می گیرد که به زبان انگلیسی است و داوطلبان از آن سر در نمی آورند.

به گزارش فیگارو، گذشته از این، حقوق ماهانهٔ آنها چنان ناکافی است که برخی از آنها ترجیح می دهند، پس از آموزش، با فرار از جرگهٔ نیروهای دولتی به طالبان بپیوندند، که به مزدوران خود پول بیشتری می پردازند. ص۳

دعربي متحدو اماراتو محکمې د امارتو د امير ورور ته برائت ورکړ

د متحده عرب اماراتو يوې محکمې د يکشنبې په ورځ د اماراتو د امير ورور شيخ عيسی بن زياد ال نهيان ته د يوه افغان د وهلو ټکولو او پر هغه د جنسي تجاوز له تورونو څخه برائت ورکړ.

د ۴۰ کلن شيخ عيسی مدافع وکيل د جرمني خبري اژانس ته وويل، د محکمې د حکم له مخې، نوموړی په دې عمل ځکه ملزم نشي پېژندل کېدای، چې ده د جرمي عمل پرمهال درمل خوړلي و.

د روان کال په اپرېل مياشت کې د امريکا اې بي سي ټلويزيون هغه ويډيويي انځورونه خپاره کړل، چې ال نهيان او يو پوليس پر ۲۰۰۴ کال په قمچينو او مېخ لرونکو تختو د يوه افغان د وهلو ټکولو، بيا د هغه پر زخمونو د مالګې شيندلو او وروسته په خپل موټر پسې د هغه د ترلو او کشولو په حال کې ښيي.

شيخ عيسی په جنسي تجاوز، وهلوټکولو او له خطر سره د يوه انسان د ژوند د مخامخ کولو په تور محاکمه شو.

د ال نهيان مدافع وکيل حبيب الملا وويل، ده د خپل موکل د بېګناه ثابتولو په خاطر ډېرې هلې ځلې وکړې او بلاخره محکمې هم پرېکړه وکړه، چې دی د خپل عمل مسوول نه دی، ځکه د دې عمل پر مهال ده د بېسدۍ او درد ضد دوا خوړلې وه. ۳مخ

قوماندان نیروهای مسلح بریتانیا قربانی جدید جنگ افغانستان

یک روزنامهٔ غربی از فشار چهره های سیاسی و نظامی بریتانیا بر دولت برای کنار گذاشتن قوماندان نیروهای مسلح این کشور به سبب مشکلات فزایندهٔ اردوی بریتانیا در افغانستان خبر داد.

به گزارش روزنامهٔ تایمز، مخالفان سر "جاک استیرآپ" وی را به نداشتن تجربه برای قوماندانی نیروی هوایی و همچنین قوماندانی نیروهای بریتانیا در افغانستان متهم می کنند.

بر اساس این گزارش، سر جاک استیرآپ علاوه بر فرماندهی نیروی هوایی بریتانیا، فرماندهی نیروهای مسلح بریتانیا را نیز بر عهده دارد و از همین رو، قوماندانی نظامیان بریتانیایی در افغانستان به طور مستقیم به وی مربوط می شود.

تایمز در ادامه می نویسد: با توجه به افزایش فشارها انتظار می رود که از استیرآپ خواسته شود، تا از سمت خود استعفا دهد.

بر اساس این گزارش، نظامیان بریتانیا معتقد اند که قوماندانی نیروهای مسلح این کشور باید در اختیار فردی باشد که در بخش پیاده نظام خدمت کرده و نه یک قوماندان نیروی هوایی.

سر جاک استیرآپ تا سال ۲۰۱۴ قوماندانی ص۳

استراتیژی غرب در افغانستان تردیدآمیز است

یک روزنامهٔ فرانسوی در گزارشی ضمن اشاره به کنفرانس بین‌المللی ۲۸ جنوری، استراتیژی کشورهای غربی را در افغانستان تردیدآمیز خواند.

روزنامهٔ فرانسوی "لوموند " در مقاله‌یی به قلم "ناتالی نوگایرد " دربارهٔ استراتیژی غرب در افغانستان نوشت: پس از حملهٔ نافرجام روز ۲۵ دسمبر گذشته به طیارهٔ پرواز امستردام-دیترویت و حملهٔ۳۰ دسمبر در ولایت خوست افغانستان که منجر به کشته شدن هفت عامل سیا شد و به دنبال آن آشکار شدن ضرورت مبارزه با القاعده، جامعهٔ بین‌الملل بار دیگر خود را برای تمرکز جدید در افغانستان آماده می‌کند.

این روزنامه افزود: عملیات نیروهای ایتلافی تحت فرمان سازمان ملل از این پس وارد نهمین سال خود می‌شود و کنفرانس بین‌المللی ۲۸ جنوری فرصتی برای ایجاد پایه‌ها و بنیان‌های بهتر در روابط پیچیده میان "حامد کرزی " رییس‌جمهور افغانستان و دولت‌های غربی خواهد بود.

GETTY IMAGES

لوموند در ادامه تصریح کرد: تردیدهای بسیاری در خصوص این کنفرانس بین‌المللی مطرح است و بر آن سایه افکنده است. به عقیدهٔ ص۳

نیویارک تایمز:

امریکا طیاره های جاسوسی بیشتری به افغانستان می فرستد

یک روزنامهٔ امریکایی دیروز به نقل از قوماندانان نظامی اردوی امریکا گزارش داد که واشنگتن برای استقرار طیاره های جاسوسی بدون سرنشین در افغانستان با هدف تعقیب و شناسایی قوماندانان طالبان و هم‌چنین حفاظت از نیروهای ایتلافی عجله دارد و معتقد است که این طیاره های بدون سرنشین جاسوسی در جنگ علیه تروریزم بسیار سرنوشت‌ساز محسوب می‌شود.

روزنامهٔ نیویارک تایمز به نقل از قوماندانان نظامی ارشد امریکا گزارش داد: درخواست‌ها برای طیاره های شکاری و جاسوسی بدون سرنشین از آغاز حملات تروریستی در سال ۲۰۰۱ افزایش یافته است و این ص۳

جنرال ریچاردس لوی درستیز بریتانیا:

در جنگ افغانستان از نظر منابع در مضیقه بوده‌ایم

به حضور نظامی در افغانستان برای پنج سال دیگر نیاز است

لوی درستیز بریتانیا همزمان با آماده شدن سربازان امریکا برای برعهده گیری عملیات‌های نظامی در مناطقی که سربازان بریتانیایی تلفات سنگینی داده‌اند، اظهار داشت: چند سال است که نیروهای بین‌المللی حاضر در افغانستان از لحاظ منابع در مضیقه هستند.

جنرال سردیوید ریچاردز، لوی درستیز بریتانیا اظهار داشت: استراتیژی جدید بارک اوباما، رییس جمهور امریکا در افغانستان منجر به ایفای نقش بیشتر سربازان امریکایی در ولایت هلمند می‌شود.

وی ابراز امیدواری کرد، سطح تلفات تا پایان سال دشوار ۲۰۱۰، کاهش یابد.

ریچاردز افزود: حضور نظامی حداقل برای پنج سال دیگر در افغانستان یک نیاز است.

نظامیان امریکایی حاضر در افغانستان که تحت رهبری جنرال امریکایی، استنلی مک کریستال هستند در نظر دارند، تامین امنیت مناطق دور دست‌تر ولایت هلمند را عهده‌دار شوند.

جنرال ریچاردز اظهار داشت: طرح جدید اوباما به ایجاد استراتیژی خروج نیروهای ایتلافی کمک می‌کند. ص۳

بشري حقونه، خپلواک که بلواک کمېسيون

۲ مخ

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

محکمهٔ شیخ عیسی، توهین دیگری به حق افغان ها؟!

این نخستین باری نیست که حقوق حقهٔ افغان ها چنین دست کم گرفته می شود؛ افغان ها هر روز زیر نام های و عناوین گوناگون شکنجه می شوند، زیر لت و کوب قرار می گیرند، حیثیت و آبروی شان زیر پا می شود و بالاخره به صورت بسیار فجیعانه نیست و نابود می گردند، اما هیچ مرجعی وجود ندارد که به داد و فریاد این مظلومان که سال ها در دود و آتش می سوزند و می سازند، برسد. افغان ها از سی سال به اینسو در آتش جنگ های تحمیل شده بیرونی و خانه جنگی می سوزند و روزی نیست که سوگوار مرگ یکی از عزیزان شان نباشند. از سویی در داخل کشور، یا نیروهای ناتو و امریکایی با بم های سنگین بر سر شان می کوبند و یا هم قربانی حملات بمی و انتحاری مخالفان می گردند، از سوی دیگر، آنعده از افغان هایی که طی سی سال گذشته، رهسپار کشورهای همسایه، خلیج و غربی گردیده اند نیز، از این روز خوش و وضع بهتری ندارند. وضعیت مهاجران افغان در ایران و پاکستان برای همه آشکار است که آنها زیر جور و ستم نیروهای امنیتی این کشورها، چگونه هر شب را صبح می سازند و چه چیزی نیست که بر این بیچاره گان تحمیل نمی شود؛ گذشته از این، شمار دیگری از افغان هایی که راهی اروپا و کشورهای غربی شده اند نیز، یا در نیمه راه غرق و خوراک نهنگان می شوند، و یا در دست پولیس ددمنش یونان خوار و زبون و یا نیز توسط نیروهای امنیتی فرانسه زیر شکنجه قرار می گیرند. این است، داستان واقعی یی از زنده گی یک ملت مظلوم و بیچاره.

روز گذشته رسانه ها، خبری را مبنی بر تبریهٔ جانی درجه یک امارات متحده عربی شیخ عیسی را به نشر سپردند. شیخ عیسی که مربوط خانوادهٔ امیرنشین ابوظبی و برادر ولیعهد این امارت نشین می باشد، چند ماه قبل افغانی را به نام محمد شاهپور که شریک تجارتی وی بود، به انواع گوناگون به صورت بسیار ظالمانه و وحشیانه زیر شکنجه قرار می دهد، به گونه یی که شاهپور تحمل شکنجه این جانی را نیاورده و بیهوش می گردد و در چنین یک حالت وخیم به شفاخانه یی انتقال می یابد و نامبرده بعد از مداوای لازم و سپری شدن مدت زمان زیادی به هوش می آید. این صحنه را شریک تجارتی دیگر شیخ عیسی فلم برداری و به یک رسانهٔ تصویری امریکایی می دهد، این رسانهٔ امریکایی فلم مذکور را بدون کم و کاست به نشر می سپارد، که این مسأله باعث برانگیخته شدن سروصداهای نهادهای حقوق بشر می گردد و دولت امیرنشین امارات متحده عربی از این ناحیه زیر فشارهای این نهادها قرار گرفته و مجبور می شود که صحنهٔ محاکمهٔ سمبولیک و نمایشی شیخ عیسی را دایر و در نتیجه، تبریهٔ کامل او را از محکمه بگیرد.

اگر جریان محکمهٔ شیخ عیسی را به صورت واقعبینانه به بررسی بگیریم، به خوبی آشکار می شود، که این محکمه سمبولیک و صرف به خاطر اغوای افکار عامه و نهادهای حقوق بشری و رسانه ها بوده و حکم تبریهٔ آن هیچ وزن حقوقی یی ندارد. زیرا در قدم نخست، این دلیل محکمه که وی در حال انجام این عمل، نشه بوده، نمی تواند، دلیلی برای تبریهٔ وی شود، بلکه این مسأله بار جرم وی را بیشتر سنگین می سازد. معلوم است، که این جریان به دستور و زیر نظر شیخ های امارات متحدهٔ عربی به راه افتاده که هدف اصلی از آن تبریهٔ شیخ عیسی و کاهش در میزان فشارهای خارجی در ارتباط این موضوع بر کشور امارات متحده عربی است، نه دفاع از حقوق یک افغان، بنابراین، به صراحت گفته می توانیم، که این محکمه، غیرعادلانه وجانب دارانه بوده و در حقیقت توهین دیگری به حق افغان هاست.

بنابراین، مسوولیت دولت افغانستان که از طریق مجاری دیپلوماتیک با بررسی همه جانبهٔ این موضوع، داخل اقدام شده و در راه دفاع از حقوق شهروندان خود، هر چه که لازم است انجام دهد، و خواهان از سرگیری محاکمهٔ این جانی که به شکنجه و اذیت یک افغان متهم است، از طریق محکمه یی بیطرف و آزاد شود و با این کار، مسوولیت خود را در قبال احقاق حقوق شهروندان خود اداء نماید.

بشري حقونه، خپلواک که بلواک کمېسیون

حبیب وقار

پرلپسې وژنې او زموږ د بشري حقونو د کمېسیون پټه خوله پاتې کېدل، ډېرې پوښتنې راولاړوي، موږ نه پوهېږو چې له بهرنیانو سره کوم قرارداد شوی، چې د افغانانو د وژنې پوښتنه به نه کېږي او که څه کیسه ده، چې هېڅوك یې هم پوښتنه نه کوي. موږ افغانان په پرلپسې توگه وژل کېږو، خو داسې څوك نشته چې پوښتنه مو وکړي، ولسمشر یې یوازې په غندلو، خواخوږي څرگندولو، پر یوه وژل شوي باندې د ۵۰ زره افغانیو پر وېشلو باندې پای ته رسوي، خو په اصل کې د یوه انسان د وژنې ارزښت په څو پیسو سره نه پوره کېږي. که چېرې یې ولسمشر او نور چارواکي پوښتنه نه کوي او یا هم په جوړجاړیو بوخت دي، نو د بشر حقوقو خپلواك کمېسیون ولې دومره ناخپلواك شوی، دوی یې ولې په کلك هوډ سره په ملگرو ملتونو کې په جدي توگه د دې موضوع پوښتنه نه کوي.

د سیما ثمر له چوپ پاتې کېدو سره مې د نوموړې یوه خبره چې په یوه مجلس کې چې زه او یو بل کس ورسره ناست و وکړه، را یاده شي. زما ملگري له نوموړې پوښتنه وکړه چې ډاکټر صاحب تاسې ولې راتلونکو ټاکنو ته (چې هغه د ولسمشرۍ لومړۍ ټاکنې وې) خان نه کاندیدوئ، نوموړې په ځواب کې ورته وویل. «دا چې زه د خپلو هېوادوالو لپاره دا جهاد چې همدا اوس په کې بوخته یم وکړم. دا ډېره لویه خبره ده، دا د فساد حکومت دی او په دې حکومت کې د افغانانو پوښتنه نه کېږي، خو زه به د هر افغان د مړینې، ژوند او ستونزو پوښتنه کوم.»

اوس څه شوه هغه سیما ثمر چې دا ډول شعارونه یې ورکول، ولې یې شعارونه په خوله کې بند پاتې شول، ولې یې د هسکې مېنې، بالابلوك، عزیز اباد، سید اباد، شاه ولي کوټ، چاردرې او په دې لنډو ورځو کې د روداتو پوښتنه ونه کړه. او که دا آغلې په هېواد کې خلکو ته د دوی د تذکرې له مخې ارزښت ورکوي، چې د کومې سیمې دی.

د بهرنیو ځواکونو له لاسه زموږ تنکي زلمي په قصدي ډول وژل کېږي، خو زموږ بشري حقونه یې په کیسه کې هم نه دي. د دولت چارواکي او د کونړ والي ښاغلي فضل الله واحدي ویلي چې که څه هم په کونړ کې د امنیتي ځواکونو لپاره د همغږۍ اداره شته، چې بهرني پوځیان هم باید په همغږۍ عملیات وکړي، خو له بده مرغه په دغو عملیاتو کې له دې ادارې سره هېڅ سلا مشوره نه ده شوې.

د افغانستان ختیځ کونړ ولایت چارواکو ویلي، چې د ناټو په پوځي عملیاتو کې لس کسه ولسي وگړي وژل شوي، چې اته یې زده کوونکي دي.

د کونړ والي سید فضل الله واحدي همدا راز رسنیو ته څرگنده کړې، چې سیمې ته د استول شوي پلاوي لومړنۍ موندنې ښیي، چې په عملیاتو کې لس کسه وژل شوي چې اته یې د ښوونځي زده کوونکي دي. «زموږ له خوا د لېږل شوي پلاوي په مټ معلومه شوه، چې لس کسه وژل شوي، چې اته یې د ښوونځي د بېلابېلو ټولگیو، لکه نهم، لسم او یوولسمو ټولگیو زده کوونکي دي. دوی په ځمکنیو عملیاتو کې وژل شوي.»

آیا دا افغانان نه دي چې سیما ثمر یې پوښتنه وکړي؟

آیا دا زده کوونکي د دې هېواد راتلونکي روڼ اندي نه دي؟

آیا دا زده کوونکي مور او پلار نه لري؟

دا چې زده کوونکي او وژل شوي کسان افغانان، ملکي وگړي او د دې هېواد اوسېدونکي دي، نو بیا ولې یې د بشري حقونو مشره پوښتنه نه کوي؟

آیا دا پرته له دې بله کومه دنده هم لري، چې تر دې د ډېر ارزښت لرونکې وي؟

آیا تر دې مهمې پېښې هم شته، چې د دې پېښو د پلټلو مخه یې نیولې وي؟

خو نه داسې نه ده! سیما ثمر نه غواړي چې د افغانانو وینو ته ارزښت ورکړي، افغانان نړیوالو ته داسې وښیي چې دا هم بشر دی، بلکې نن ورځ نړیوال افغانانو ته د یوه مصرفي توکي په توگه ارزښت ورکوي.

موږ له خپلو ټولو چارواکو غواړو، چې خپلو افغانانو ته د ارزښت په سترگه وگوري او بهرنیانو ته وښیي چې موږ خپلو هېوادوالو ته درناوی لرو، که نه د فرانسې له لومړي وزیر څخه دې زده کړي. هغه وخت چې په سروبي کې فرانسویان ووژل شول، لومړی وزیر یې په هوایي ډگر کې د خپلو وژل شوو سرتېرو د ورورو په انتظار ولاړ و او د دوی په لیدو یې اوښکې تویولې، خو زموږ د بشر حقوقو ټولنې یوه ورځ هم د عزیزاباد د یتیمې زهرې او نورو سلگونو یتیمانو پر حالت زړه سوی ونه کړ او نه یې اوښکې پرې تویې کړې.

بهرنیان د یوه امریکایي سرتېري د وژل کېدو له امله ټوله هغه سیمه بمباروي، په کومه کې چې د هغوی سرتېري وژل کېږي. دوی ته اوس څرگنده شوې ده چې دلته هېڅ داسې څوك نشته چې پوښتنه یې وکړي، ولسي جرگه چې خانونه د خلکو استازي او د خلکو د ستونزو پوښتونکي بولي، هم یوازې پر دې بسنه کوي چې له جرگې څخه د احتجاج په توگه ووځي. که چېرې دوی په رښتیا هم د افغانانو د مړینې پوښتنه کولای، نو ولې یې په دې څو کلونو کې د داسې پېښو په کېدو سره یوه هم استعفا ورنه کړه. که حالات همداسې وي، نو افغان چارواکي او بهرنیان ټول دې پر دې پوه شي چې افغانان به نور پټه خوله پاتې نشي، که چېرې یې څوك پوښتنه ونه کړي، دوی به په خپله، خپله پوښتنه وکړي او نور به هېڅ کله هم د بشري حقونو ټېکه دارې سیما ثمر او یا هم نورو تش په نامه چارواکو ته هیله ونه لري.

سرنوشت حاکمیت = سرنوشت مردم افغانستان

بلال

اخیراً بعداز روزها انتظار و انجام مطالعات و ارزیابی ها، محترم حامد کرزی توانست، از میان شخصیت های کارا و موثر افغانی بالاخره لست ۲۴ نفری کابینهٔ جدید خویش را توسط محترم مارشال محمد قسیم فهیم معاون اول ریاست جمهوری افغانستان به نماینده گان ملت غرض اخذ رای اعتماد معرفی نمود که در جمع این نامزد وزیران پیشنهادی، وزرای موفق کابینهٔ قبلی، چهره ها و شخصیت های جدیدی به نظر می رسید که متعلق به احزاب و اقوام مختلف کشور بودند، که در حقیقت، ترکیبی از وزرای نامزد به پست های وزارت ها انعکاس دهندهٔ مشارکت ملی و تمثیل واقعی دیموکراسی را در کشور جنگزده مانند افغانستان بیان نمود، بدون شک نماینده گان ملت که امروز در خانهٔ مردم افغانستان یعنی (پارلمان) مصروف تصمیم گیری های معقول و سازنده اند، باید قبل از همه در هر اقدام و عملکرد خویش منافع ملی، خیر و فلاح مردم و سرزمین خویش را در نظر گیرند که این اصل، در حقیقت، ماهیت و جوهر اصلی پارلمان یک کشور را تشکیل می دهد؛ آنچه که مهم است، این است که دولت اسلامی افغانستان اکنون در شرایط حساس سیاسی و بین المللی خود قرار دارد که تمام کشورهای کمک کننده و همکار استراتیژی افغانستان شکل نظاره گر را به خود اختصاص داده اند که ببینند، نهادهای (اجراییه، قضاییه و مقننه) دولت افغانستان در راه بهبود اوضاع کشور، کدام اقدامات و گام های مثبتی را در شرایط فعلی برمی دارند، که پیرامون موضوع افغانستان قراراست که عنقریب کنفرانس بین المللی در لندن به اشتراک اکثر کشورهای بزرگ جهان برگزار گردد که عمده ترین اهداف اساسی آن را رشد اقتصادی و نظامی در افغانستان تشکیل خواهد داد که این اقدام موثر جهان باعث افتخار دولت و همه ملت افغان خواهد گردید.

اما آنچه را که نباید فراموش کرد، از این تصمیم اخیر نماینده گان ملت در پارلمان کشور یاد کرد که بار دیگر نگرانی های بیشتر را در ذهن مردم افغانستان و جهان به وجود آورده است: رد تقریباً ۷۰٪ اعضای کابینهٔ پیشنهادی حکومت می باشد که از جانب این مجلس در همچو شرایط حساس سیاسی و نظامی که واقعاً زیانبار به حال و آیندهٔ نظام بوده و حاکمیت ملی ما را در سطح بین المللی زیرسوال برده و صدمهٔ جبران ناپذیری را وارد نموده است؛ اینکه چرا پارلمان به تعداد زیادی از این نامزد وزیران، رای عدم اعتماد داده اند، این موضوع تعلق به تصمیم خود آنها می گیرد که چرا و روی کدام علت و انگیزه متوسل به این اقدام دسته جمعی شده اند، در حالی که یک سلسله فشارهای ملی و بین المللی نیز بالای جناب رییس جمهور کشور وجود داشت که کدام افراد و اشخاص باید در کابینه جا داده شوند، خیر به هر صورت، یقیناً که فعلاً تمام رهبران و شخصیت های مطرح کشور ما یا مربوط به تنظیم های جهادی هستند که به نام جنگسالار وانمود می شوند و یا اینکه بعضی آنها به نام غربی و تکنوکرات و یا کمونیست یاد می شوند که فعلاً این افراد در اکثر قضایای کشور مستقیم و یا غیرمستقیم ذیدخل اند، مگر با تاسف تاجایی که شنیده می شود، یک عده از وکلای محترم به یکتعداد وزرای پیشنهادی بنام جنگسالار و تعداد دیگری بنام غربی و کمونیست رای عدم اعتماد خود را استعمال کردند که این نوع روش خود در حقیقت یک جفایی است، به حق ملت و سرزمین زیبای ما افغانستان که نباید با چشمان بسته، وکلای محترم چنین تصمیی را اتخاذ می کردند که انجام شد.

اینجانب به عنوان یک افغان و متعهد به ارزش های اسلامی هستم، از تمام وکلای محترم که ما آنان را به عنوان نماینده گان خود به خانهٔ ملت فرستاده ایم، صمیمانه تقاضا می نمایم که منافع ملی را همیشه نسبت به منافع شخصی و گروهی خود ترجیح داده تا بتوانیم، افغانستان را آباد سازیم؛ اگر هنوز هم ما به فکر همان اندیشه های پوچ گذشته که توسط دشمنان وطن ما برای ما انتقال و وارد گردیده است، عمل نماییم نتیجهٔ آن این است که دشمنان سی سال ما را به خاک و خون زیر نام کمونیست، مجاهد،غربی و طالب کشاندند وا ین بار هم اگر چنین اقدام ناسنجیده را اتخاذ می کنیم، به جز بازوی خود را قطع کرده، چیزی دیگری را به ارمغان نخواهیم آورد ، اگر غربی هستند یا مجاهد وغیره وغیره، بالاخره افغان هستند و باورمند به افتخارات اسلامی و ملی کشور ما می باشند، بناً این بار بر اساس رسالتی که همه داریم، آرزو داریم که همه کاندید وزرأ باید رای اعتماد را از جانب وکلای محترم به دست آورند و ما اکنون در حالتی قرارداریم که همه دشمنان قسم خوردهٔ رو در رو با ما در کمین

ص۳

نمی‌توان وحشت را کاشته امنیت را ...

و در دوران جورج بوش هم در زمرهٔ کارشناسان وزارت امور خارجه بود، در این مورد می‌گوید: ما باید شکست در تامین امنیت در امریکا را همان‌گونه مورد تجزیه و تحلیل قرار دهیم که با یک مصیبت در خطوط هوایی برخورد می‌کنیم. زمانی که یک طیاره دچار سانحه می‌شود، مسوولان سیستم حمل و نقل کمیته‌یی از کارشناسان بی‌طرف را مسوول بررسی علل وقوع این حادثه و ارادهٔ راهکارهایی برای پیشگیری از وقوع مجدد می‌کنند. ما باید دایما تکه‌های شکسته شده را به هم پیوند بزنیم و در مسیر پیشرفت حرکت کنیم.

حالا تصور کنید که این بازبینی در روش‌های تامین امنیت پس از وقوع یک حادثه آغاز شود. شهروندان به این باور می‌رسند که دولت پس از انجام یک حملهٔ تروریستی چه موفقیت‌آمیز و چه شکست‌خورده، به فکر تجزیه و تحلیل شرایط می‌افتد. سیاستمداران به سختی می توانند، از این قبیل حوادث در مسیر منافع خود استفاده کنند.

به یاد حملات تروریستی افتادن زمانی که کار از کار گذشته در حقیقت تنها به نفع تروریستان است. افراط در پاسخ‌دهی به حملات تروریستی می‌تواند، قربانی را به واکنش‌های افراطی وادارد که هم هزینه‌بر است و هم بعضا نتیجهٔ معکوس دارد.

اسکن بدنی تمام مسافران ره به جایی نخواهد برد و البته منطقی هم نیست. زمانی که در انباری از کاه به دنبال سوزن می‌گردید، اضافه کردن کاه ره به جایی نخواهد برد. آنچه مورد نیاز است، لیست جامع‌تری است، از مظنونان و افرادهای تحت تعقیب. لیستی که تنها به اسامی اعلام شده از سوی یک نهاد استخباراتی خاص اکتفا نکند. روزانه در خطوط هوایی ایالات متحده دو میلیون نفر جابه‌جا می‌شوند. ما باید لیست جامعی تهیه کنیم و بر اساس آن، مانع از حادثه‌آفرینی این افراد شویم، نه آنکه برای یافتن سوزن، همه را بترسانیم.

در ایالات متحده همه خواهان محاکمهٔ جوان نایجریایی در جامهٔ دشمنی خارجی هستند. مردی که باید شکنجه و در نهایت هم به گوانتنامو فرستاده شود، خدا می‌داند که این جوان مستحق این مجازات است یا خیر؟ اما هنگام تعیین مجازات این نکته را هم مدنظر داشته باشید که پدر این جوان نایجریایی همان فردی بود که معلومات اساسی در مورد پسرش را در اختیار سیا قرار داد. اگر این پدر گمان می‌کرد که واشنگتن ابرقدرتی است که در نهایت نوجوانش را شکنجه می‌کند، آیا باز هم همین معلومات را در اختیار ماموران امنیتی قرار می‌داد؟

ما برای آنکه امریکا را امن‌تر کنیم، به اسکنرهای بدنی بیشتر نیاز نداریم، بلکه به پدران، مادران و دوستان بیشتری نیاز داریم که به سیستم امنیتی ما اطمینان داشته باشند و مظنونان به فعالیت‌های تروریستی را تحویل دهند.

قوماندان نیروهای مسلح بریتانیا قربانی ...

نیروهای مسلح بریتانیا را بر عهده دارد، اما با توجه به افزایش فشارها برای کنار گذاشتن وی، امکان استعفای وی پیش از این تاریخ وجود دارد.

به نوشتهٔ تایمز، موضوع کنار گذاشتن استیرآپ در حالی مطرح می شود که انتخابات پارلمانی نیز در بریتانیا تبدیل به موضوع داغی در این کشور شده و هم حزب کارگر و هم حزب محافظه کار وعدهٔ بازبینی در استراتیژی نظامی بریتانیا را در صورت پیروزی در انتخابات داده اند.

از سوی دیگر، موقعیت "گوردون براون" صدراعظم بریتانیا نیز بسیار متزلزل است و ممکن است، براون برای بهبود وضعیت خود، سر جاک استیرآپ را کنار بگذارد.

استراتیژی غرب در افغانستان...

کارشناسان، پیشنهاد برگزاری این کنفرانس بین‌المللی که در نومبر سال گذشته توسط "گوردون براون " صدراعظم بریتانیا مطرح شد، پیشنهاد زودهنگامی بود؛ چرا که در بحبوحهٔ اجرایی شدن تصمیم "بارک اوباما " مبنی بر فرستادن نیروهای کمکی امریکا به افغانستان مطرح شده بود. از سوی دیگر، این سؤال برای غربی‌ها مطرح است که آیا "حامد کرزی " رییس‌جمهور افغانستان تا پیش از موعد برگزاری این کنفرانس، دولت خود را تشکیل خواهد داد یا خیر. اهمیت این جنبهٔ مسأله برای غربی‌ها از آن جهت است که آنها می‌خواهند، بیش از پیش از کرزی تعهد و وعدهٔ حاکمیت خوب دولت و مبارزه با فساد را بگیرند.

کنفرانس‌های بین‌المللی دربارهٔ افغانستان به طور متوسط هر ساله برگزار می‌شود و کنفرانس ۲۸ جنوری امسال نیز قرار است، طبق روال گذشته و به میزبانی لندن برگزار شود.

سرنوشت حاکمیت = سرنوشت مردم ...

نشسته و منتظر فرصتی هستند که این ملت را چگونه یکباردیگر مورد ضربه قراردهند که آن وقت پشیمانی سودی نخواهد داشت؛ جز اینکه همه امروز اگر در پارلمان هستیم، یا در حکومت، همه دست به دست هم داده، از فرصت های طلایی که نصیب مردم ماشده است، استفادهٔ اعظمی به نفع تحکیم نظام وملت خود نموده، تصامیم درست و منطقی اتخاذ نماییم، نه در پی تضعیف نظام باشیم.

آموزش نیروهای افغان، با واقعیت های ...

به نوشتهٔ این روزنامه، افسر رابط "ایساف" در افغانستان می گوید، داوطلبان ساکن کابل نیز پس از آموزش، برای کسب درآمد بیشتر، خود را در اختیار بخش های خصوصی و یا صاحب منصبان مرفهٔ وزارت دفاع قرار می دهند.

در جنگ افغانستان از نظر منابع...

وی به شبکهٔ پنج رادیو بی. بی. سی گفت: واقعا ما هرگز منابع کافی برای انجام اقدامات برنامه‌ریزی شدهٔ خود را دارا نبوده‌ایم. هم اکنون بارک اوباما تصمیم خود را گرفته و ما شاهد افزایش سربازان خارجی به ویژه سربازان امریکایی در افغانستان هستیم. از سوی دیگر، تمرکز ویژه‌یی بر تقویت اردو و پولیس افغانستان صورت گرفته؛ زیرا این اقدام، راه رهایی ما از مسوولیتی است که نیروهای افغانی خود باید بدست گیرند.

ریچاردز در مورد نقش بیشتر امریکا در هلمند اظهار داشت: این یک تصمیم نظامی بر پایهٔ اطمینان یافتن از استفادهٔ صحیح از منابعی است که به آنها داده می‌شود.

وی افزود: این تصمیمی نیست که در لندن توسط افرادی مثل من اتخاذ شود، این وظیفهٔ جنرال مک کریستال و قوماندانان بریتانیایی حاضر در افغانستان است.

امریکا طیاره های جاسوسی بیشتری ...

طیاره ها به یکی از مهمترین سلاح‌ها برای تعقیب رهبران طالبان و حفاظت از نیروهای ایتلافی تبدیل شده است.

به نوشتهٔ روزنامهٔ تایمز آو اینديا، نیویارک تایمز اعلام کرد که واشنگتن هم اکنون در روند فرستادن طیاره های بدون سرنشین به روز شده با دوربین‌های جاسوسی چند بعدی به افغانستان در سال آینده است.

این روزنامه نوشت: قوماندانان اردوی امریکا در حال حاضر به معلومات جمع آوری شده و ویدیوهای گرفته شده توسط این طیاره های جاسوسی با هدف تعقیب و شناسایی طالبانی که در حال کار گذاشتن بم‌های جاده‌یی هستند و هم چنین یافتن خانه‌های امن طالبان و انبارهای تسلیحاتی آنها، نیاز دارند.

نیویارک تایمز همچنین نوشت که ارتش، تفنگداران نیروهای دریایی و نیروهای ویژه در حال استقرار صدها طیارهٔ بدون سرنشین کوچک در حملات ضد طالبان خود هستند.

د عربي متحدو اماراتو محكمې د امارتو ...

ښاغلي الملا وويل، چې دا ويډيويي تصاوير له ال نهيان څخه د ګواښ په وسيله د پيسو د ترلاسه کولو په مقصد اخيستل شوي دي.

ويل کېږي دا ويډيويي تصاوير د بسام او غسن نابلسي په نومونو د ال نهيان د تجارت شريکانو اخيستي وو، چې هر يو د محکمې له خوا په پنځه کاله حبس محکوم شوي دي.

د ازادي راډيو د رپوټ پر اساس، د اماراتو د بشري حقونو او قضا اداري په يوه اعلاميه کې ويلي دي، چې په دې هېواد کې قانون پر ټولو اتباعو يوډول تطبيقېږي او د قوم، هېواد، مذهب، عقيدې او يا ټولنيز موقف له مخې له هېچا سره تبعيض نه کېږي.

شيخ عيسى ال نهيان که څه هم د امير ورور دی، خو د متحده عرب اماراتو په حکومت کې رسمي مقام نه لري.

د بشري حقونو او قضا د اداري په اعلاميه کې همداراز د دې تصويرونو خپرول غندل شوي دي.

اعلاميه زياتوي، چې دا موضوع دواړو اړخونو په خپلو کې سره حل کړې او هېڅ لوری د دې دعوې د دوام هيله نه لري، خو اعلاميې په دې اړه نور تفصيل نه دی ورکړی.

درې تنه امريکايي سرتېري ووژل...

ايساف په دې اړه نور معلومات نه دي ورکړي.

بلخوا وسلوالو طالبانو د هلمند په ناوې ولسوالۍ کې د يوې نښتې په ترڅ کې د ګڼ شمېر بهرنيو سرتېرو د وژلو ادعا کړې ده.

د يادونې وړ ده، چې وړمه ورځ هم په هلمند کې ديوې چاودنې له امله يو امريکايي بحري سرتېری وژل شوی و.

د پژواک د رپوټ له مخې، په روان زېږدي کال کې د وژل شوو بهرنيو سرتېرو شمېره ۱۲ تنو ته ورسېده، په داسې حال کې، چې تېرکال په هېواد کې ۵۲۰ بهرني سرتېري وژل شوي وو، چې ډېری يې امريکايان وو.

د سوداګرۍ وزارت ته نومول شوي وزير له وزارت څخه معذرت وغوښت

پژواک ـ د ولسمشر حامد کرزي له خوا سوداګرۍ وزارت لپاره نومول شوي وزير محمد هادي حکيمي د شخصي ستونزو له امله له وزارت څخه معذرت غوښتی دی.

ولسي جرګې ته د ولسمشر حامد کرزي له خوا د مرغومي پر ۱۹مه، د پاتې ۱۲ نوماند وزيرانو لېست وړاندې شوی و، چې په هغې کې محمد هادي حکيمي د سوداګرۍ وزارت لپاره ټاکل شوی و.

يوې باوري سرچينې د مرغومي پر ۲۰مه، وويل چې حکيمي ورته د وړاندېز شوي وزارت څخه د شخصي او کورنيو ستونزو له امله معذرت غوښتی دی.

سرچينې زياته کړه، حکيمي اوسمهال په کاناډا کې و او ټاکل شوي وه، چې پرون له ټورنټو څخه د کابل په لوري وخوځېږي.

ياده شوې سرچينه وايي، چې هادي حکيمي په دې اړه جمهوري رياست ته خبر ورکړی.

خو د ولسمشر حامد کرزي د وياند دفتر وويل، چې دوی تراوسه په دې اړه کوم خبر نه دی ترلاسه کړی.

د يادې شوې سرچينې د معلوماتو له مخې، قوي احتمال شته، چې ولسمشر حامد کرزی د هادي حکيمي پر ځای عبيد عدنان نجاتي د سوداګرۍ د وزير په توګه معرفي کړي.

نجاتي اوسمهال په کابل کې د افغان - امريکايي پوهنتون د مسلکي پراختيا د انستيټيوټ مشري پر غاړه لري.

د پاکستان کراچي د رڼاګانو ښار نه، بلکې د وژنو ښار دی

د پاکستان په يوه ستر او سوداګريز ښار کراچۍ کې په وروستيو ګڼو بريدونو کې په لسګونو کسان ووژل شول، چې له دريو کسانو سرونه هم پرې شوي دي. ځينې سياسي ډلې وايي د دغو بريدونو هدف د پاکستان د واکمن ايتلاف کمزوري کول دي.

د پاکستان د کورنيو چارو وزارت په وينا، پر ۲۰۰۸زېږدي کال په کراچۍ کې ۸۲ کسان وژل شوي وو، چې پر ۲۰۰۹زېږدي کال دغه شمېره ۱۵۲ ته لوړه شوه.

په کراچۍ کې سياسي تاوتريخوالی عادي خبره ده، خو د حدي د مياشتې له يوولسمې راهيسې په دې ستر، خو وحشت ځپلي ښار کې وسلوالو بريدونو او د سرونو پرې کولو حکومت اړ کړی چې ملېشه ځواکونه د نظم ټينګولو لپاره موظف کړي.

دا سياسي مبارزې په داسې حال کې زياتې شوي، چې حکومت په کراچۍ کې د طالبانو په مشرۍ د سخت دريځو له زياتېدونکو بريدونو سره مخامخ دی. په تېرو دريو مياشتو کې په ټول پاکستان کې تر ۷۰۰ زيات کسان وژل شوي، خو په دې صنعتي ښار کې وروستۍ ناکرارۍ ښايي بې ثباتي نوره هم زياته کړي.

په کراچۍ کې يو قومي سياسي ګوند، متحده قومي غورځنګ دی چې د مهاجرو په نامه د اقليتونو د يوه قوم له خوا اداره کېږي. د دې ګوند يوه ايالتي وکيل فيصل سبزوار وويل، مونږ نن د خپلې پارټۍ د څلورو غړو مړي وموندل، چې له دريو څخه يې سرونه پرې شوي وو. د دوی سرونه مو وروسته پيدا کړل.

سبزوار د پاکستان واکمن پيپلز پارټي يا PPP تورنه کړه، چې تاوتريخوالي ته لمن وهي او اکثره پېښې د کراچۍ په يوه وروسته پاتې سيمه لياري ښارګوټي کې د پيپلز ګوند تر ولکې لاندې سيمه کې کېږي.

نوموړي اوسېشېدو پرېس ته ويلي، دا کسان د لياري باند جنايتکاره غړي دي، چې زمونږ کارکوونکي وژني، د واکمن ګوند مشران د دغو جنايتکارو ملاتړ کوي.

کراچي د سند ايالت مرکز دی، د دې ايالت اعلی وزير قايم علي شاه چې د واکمن ګوند يو غړی هم دی، متحده قومي غورځنګ ته ورته ادعاوې کړې، که څه هم هغه په مستقيم ډول د کوم ګوند نوم وانه خيست، خو ويې ويل يو سياسي ګوند د دوی د پارټۍ يا ګوند د غړو په وژنه کې لاس لري.

هغه وويل، هدف د ايالتي حکومت په وړاندې توطيه جوړول دي، چې د پاکستان پيپلز پارټي به بې ځوابه پاتې نشي.

که څه هم دغه دواړه ګوندونه د واکمن ايتلاف غړي دي، دواړه ګوندونه د اختلافاتو اوږد تاريخ لري، پر ۱۹۴۷زېږدي کال چې پاکستان خپلواکي اخيسته، له هند څخه د مهاجرو په نوم اردو ژبې قوم پاکستان ته واوښت.

د سند اصلي اوسېدونکي يا سنديان له مهاجرو سره په دې اختلاف لري، چې مهاجر په حکومت کې زيات نفوذ او مهمې څوکۍ لري، د واکمن ګوند ملاتړ کوي.

د يکشنبې په ورځ د پاکستان د کورنيو چارو وزير وويل، د نوي ميلادي کال له پيله په کراچۍ کې ۴۱ کسان وژل شوي دي، چې په هغو کې لس کسان د متحده قومي غورځنګ غړي دي او لس نور د مهاجرو قومي غورځنګ د بېلتون غوښتونکې ډلې "حقيقي" او شپاړس نور د واکمن ګوند، هغه کسان دي چې په لياري ښارګوټي کې د تاوتريخوالي د کمولو لپاره ګمارل شوي وو. پاتې پنځه کسان د يوې سياسي او مذهبي ډلې غړي وو.

د تاند د رپوټ له مخې، په کراچۍ کې د پوليسو يوه مشر وسيم احمد بيا نور ارقام وړاندې کړل، هغه کوښښ وکړ دلته بحران سطحي وښيي، ويې ويل د نوي ميلادي کال په لومړيو نهو ورځو کې په کراچۍ کې پنځوس کسان وژل شوي، چې شل کسان د سياسي او قبيلوي اختلافاتو له کبله وژل شوي.

د کراچۍ د يوه پوهنتون استاد توصيف احمد خان بيا وضعيت ډېر پېچلی وباله او ويې ويل، ښايي په دغو وژنو کې به زيات ځواکونه لاس لري.

د پاکستان د کورنيو چارو وزير د جمعې په ورځ په کراچۍ کې وويل، دا وژنې د هغو کسانو کار دی، چې غواړي د پاکستان د پيپلز ګوند او متحده قومي ګوند ائتلاف کمزوری او پاکستان بې ثباته کړي.

ACKU

نوی کال، او امنیتي خم پیچونه!

یمه برخه

امان الله ایمان

په سويل ختيځو سيمو کې ملاسراج د هلمند ولايت د ملاداد الله عين کاپي ده، خو په دومره تفاوت، چې ملاسراج د نامه او ځوکۍ ليونی نه دی، داسې زړور وژل او حلالول نشي کولی لکه په کوم زړه چې له ملاداد الله کول، هغه به له رسنيو سره مرکو ته هم راووت، خو ملاسراج اپوټه، په مبارزه لګيا دی او تر اوسه يې ښايي چا څېره او مرکه هم نه ليدلي او نه اورېدلې وي، خو د ملادادالله په تناسب دده شخصيت او افعال ډېر په تول تللي دي. ملاسراج نه پرېږدي چې منځ ته يې اختلافات ورننه شي. يوازې په امريکا ګوزار يې هدف دی.

په پاکستان کې د پاکستاني طالبانو د بريدونو تنظيم او ګرمښت د جګړو د پراختيا په مانا دی، که څه هم ملا بيت الله نشته خو ځای يې خالي شوی نه دی او اوس هم جګړې هماغه شان ښې په درز روانې دي. اکثره پاکستاني ايالتي وزيران وژل شوي، دا په خپله ددوی د قوت ښکارندوی دی، له ډېرو هڅو سره سره، بيا هم ددې امکان تر لاسه نه شو چې د پاکستاني او افغاني طالبانو ترمنځ دې درز پيدا شي، اوس هم دوی يو بل ته بې حده متقابل احترامات او خاطر لري، ازبک مشر طاهر يلدوش که څه هم په لومړيو کې د ځينو اختلافاتو په لومه کې ونښت خو په دومره حد کې نه وه چې سړی دې حساب پرې وکړي، که څه هم اوس ددوی دوه فعال او ملا تير په شان مشران له منځه تللي خو جګړې هم نه دي سړې شوې، پاکستانی حکومت اوس د پاڼ او پړانګ ترمنځ ګير دی او د طالبانو قيزه يې له لاسه خطاوتلې ده، اوس هغه پاکستاني طالبان نه دي کوم چې دوی ورته خوبونه ليدل.

اوس د افغانستان جنوب ته راځو چې د جګړو ګرم ډګر دی، هلمند ولايت تر ټولو د خونړيو وژنو او جګړو شاهد وي هر کال، دغه ولايت د ملادادالله پايتخت و او له ده وروسته اوس هم د جګړو لمبې پکې کرارې شوې نه دي، د روان کال په جريان کې له انګريزانو سره ليونۍ جګړه او انګريزانو ته ليوني تلفات يې تر ټولو ښه بيلګه ده.

په ځانمرګو بريدونو کې د لومړيو په پرتله، خورا زيات کمښت راغلی خو له دې سره، په ځانمرګو اوس يو يو ځانګړی ځای په نښه کيږي. ښه نمونه يې بيا هم د خوست د سي ای اې په کارکوونکو بريد دی، خو بالمقابل، ددوی نور تکتيکونو ډېر پرمختګ کړی او ورځ تر بلې سيمې په جګړو لړي او ددولت لپاره سردرد زيږوي. تصادفي بريدونه هغه څه دي چې مقابله يې ډېره مشکله ده، ورځ تر بلې يې ليکې منظميږي، حتی د پاکستاني طالبانو او افغاني طالبانو ترمنځ د امکان تر بريده پوره هماهنګي له ورايه ښکاري.

دوی اوس د هر ولايت لپاره والي او د هرې ولسوالۍ لپاره ولسوال ټاکلی چې په سياره او منظمه توګه د خلکو هر اړخيزه چارې تنظيموي، که دولت ته څومره خلك مراجعه کوي، ددوی مراجعين که تر دولت زيات نه وي خو کم خو په هيڅ صورت نه دي. ددوی د مشر وژل اوس ددوی لپاره يوه معمولي خبره ده چې په ډېره چټکۍ سره بيرته يې ځای د نورو له خوا ډکيږي او کومه ستونزه نه رامنځته کيږي. حتی اوازې داسې دي چې په لوړه رهبرۍ کې يې هم ځيني نوي کسان د وزيرانو په توګه ټاکل شوي دي او هغه پخواني يې ليرې کړي دي.

د دولت له لوري بې نهايته زياته هڅه شوې چې په يو نوم نه يو نوم يې ترمنځ اختلافات واچوي خو فکر کوم تر اوسه يې کوم کوچ نه دي ترې ټول کړې. له قضايي، جنايي، عدلي او نورو اړخونو يې په زياتره سيمو او ولسونو منګولې خښې کړې او پرې واکمن دي.

د پاکستان د قبايلي او د افغانستان په سويل ختيځو سيمو سربيره د افغانستان په دننه کې، د هيواد جنوب د طالبانو له ماتې تر نن ورځې د جګړو ګرم ډګر دی، له پيله تر ننه پکې مکاتب بند يا په نشت حساب دي، امنيت ورځ تر بلې خراب، ملکي وژنه له دواړو لوريو ښه په خرپ روانه ده، دغه ولايتونه زياتره له پاکستان سره ګډ سرحد لري چې د ستونزې اصلي ټکی هم دغه دی. بل، طالبان د ماتې پر مهال اکثره همدغه ولايتونو ته وتښتول او د همدغه ولايتونو اوسېدونکي وو چې د موقع په موندنې سره، بيرته له سره، سره منسجم شول، چې د وخت په تيريدو يې ورځ تر بلې جنګي تخنيك پرمخ ځي. دوی اوس د هيواد په جنوب کې کله کله وسلوال بريدونه کوي چې يوه سيمه کاملا له دولت نه د ډېرې مودې لپاره تصرف کوي، دولت کله کله له مجبوريته ورسره د سولې تړونونه هم لاسليکوي. د موسی کلا تړون يې يوه نمونه درته وړاندې کولی شو. تير کال د کندهار په ارغنداب ولسوالۍ کې څو ورځنۍ جګړه چې په پای کې له حده زيات طالبان پکې مړه شول، تر ټولو ښه نمونه کيدای شي. نوی کال څو مياشتې وروسته بيا رادبره کيږي. خو د جګړې وړاندوينه زياته شديده ده. که څه هم دوی زياتره مشران لکه ملادادالله، بيت الله مسعود، طاهر يلدوش يا نور د القاعده جګپوړي مشران د بې پيلوټه الوتکو په بريدونو کې له لاسه ورکړي، خو ليکو ته يې کسان ورزيات شوي او د جګړو تابيا يې ډېره غښتلې برېښي. له دې سره جوخت، حالات داسې دي چې په کمه موده کې به د هيواد شمال ته هم ناامنۍ په پوره پيمانه خپريږي. ددغه لوی دليل تير کال په شمال کې ګونګې وروستۍ ناامنۍ وې چې په خپله دولت يې هم خوب نه درلود، چې دا وسلوال کسان څوك او له کومې لارې شمال ته ليږدوي، حتی په الوتکو ليږدول شوي وو خو دولت د فيل په غوږ کې ويده و. طالبانو حتی د باميانو ولايت ته هم والي ټاکلی و چې څه موده مخکې دولت ونيو، سره له دې چې سړی به يې هيڅ تصور هم ونه کړي. او په ټولو ولايتونو کې همدغه د امن ولايت شميرل کيده. خلاصه دا چې په راتلونکي کال کې که بريدونه تيز هم نه شي، خو ددوی سعی به دا وي چې ورځ تر بلې په دولت د هيواد له هره اړخه د حاکميت ساحه راتنګه کړي او ددوی منظم تشکيلات د همدغه موخې لپاره دي. د پاکستان د طالبانو د بريدونو تنظيم او سرعت دوی ته د ساحې د پراختيا چانس ورکوي، اميد يې زياتوي چې بيا په هر ځای کې په خلاص مټ فعاليت ته زړه ښه کولی شي. خلاصه دا چې راتلونکی کال به د جګړو شدت زيات وي، د بهرنيانو تلفات به زيات، دغه شان به د ملکيانو وژنه هم په بې ساري توګه لوړه شي چې دا وړاندوينې لا د مخه د اوباما او دده نورو غربي يارانو رسنيو ته کړې دي. خو بيا هم کوم داسې غوڅ تضمين نشته چې ددې اپوټه دې په سيمه کې ولسونو ته د امنيت تضمين ورکړي، د کليشه خبرو او کنفرانسونو په استثنا.

پای

نمی‌توان وحشت را کاشت، امنیت را درو کرد

منبع: نیوزویک

ترجمه: سارامعصومی

تلاش جوان نایجریایی برای بم‌گذاری در خطوط هوایی دترویت ایالات متحده، در ایام تعطیلات کریسمس،سناتور دیان فینشتاین را بر آن داشت، تا دقیقا جمله یی را بر زبان بیاورد که حرف دل بسیاری از ما بود: "بیش‌از آنکه کم‌کاری کرده‌باشیم، دچار افراط شدیم" .

به نظر می‌رسد که این یک جمله این‌روزها در واشنگتن هم زبان به زبان می‌چرخد. البته این نظریه اشتباه محض است. دقیقا برعکس این جمله‌بندی صحیح است. هدف تروریستان تحریک افراد برای نشان دادن عکس‌العمل‌های افراط‌گونه است. هدف اصلی و پشت پرده، کشتن صدها نفری نیست که در این و آن طیاره نشسته‌اند. بلکه غایت نهایی ترساندن سایرین است. آنها که این خبر را می‌شنوند و بر خود می‌لرزند. تروریزم در حقیقت حرکت نظامی غیرمرسومی است که موفقیت آن به نحوهٔ پاسخ‌دهی قربانی بستگی دارد. اگر ما از این حرکت نترسیم، این حمله دیگر قابلیت خود را از دست خواهد داد.

حملهٔ اخیر بیش از آنکه دال بر قدرتمندی القاعده باشد، ضعف و ناتوانی این گروه را به تصویر کشید. در هشت سال منتهی به یازدهم سپتمبر ۲۰۰۱ القاعده توان هدایت و رهبری هرگونه عملیات تروریستی را در چنته داشت. برای این عملیات‌های تروریستی هم محدودیت جغرافیایی معنایی نداشت. سمبول‌های قدرت ایالات متحده در سرتاسر جهان در همین برههٔ زمانی هدف قرار گرفتند: سفارتخانه‌های این کشور در افریقا و البته برج‌های تجارتی نیویارک. این عملیات‌های پیچیده بود و انفجار همزمان دو سفارتخانه در کشورهای مختلف و دخالت صدها تن در این قبیل حوادث تروریستی نشان داد که تروریستان از ملیت‌های متفاوت چندین ماه یا حتا چندین سال برای هدایت یک عملیات تمرین کرده‌اند. البته تمامی این حمله‌ها هم موفقیت‌آمیز بود.

در روز کریسمس اما القاعده از جوان نایجریایی و بی‌تجربه برای منفجر کردن هدف نامشخصی استفاده کرد. در نهایت هم عملیات با شکست روبه‌رو شد. به نظر می‌رسد که القاعده تنها به دنبال استفاده از این فرصت بود و نه برنامه‌ریزی جامع برای عملیات جدی یی. تلاش این جوان نایجریایی که ظاهرا شستشوی مغزی داده شده بود، در نهایت برای با موفقیت به پایان رسیدن این عملیات با شکست روبه‌رو شد. حتا یک نفر هم در این ماجرا کشته نشد. این عامل انتحاری حتا بلد نبود ساده‌ترین کار ممکن یعنی خودکشی را انجام دهد. با این وجود، القاعده در نیل به هدف خود موفقیت‌آمیز عمل کرد: سیستم امنیتی امریکا دچار دلهره و اضطراب شد. دقیقا به همین دلیل است که القاعده این عملیات را موفقیت‌آمیز خواند.

آیا میان انفعال و ترس و وحشت رابطهٔ منطقی یی وجود دارد؟ فیلیپ زلیکو که در کمیتهٔ بررسی حادثهٔ یازدهم سپتمبر نقش داشته

ص۳

اراده ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۵ ۶۲ ۵۹ ۰۷۰۰
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

اډیټور پښتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
گزارشگر: امان الله "ایمان" ۰۷۷۸۸۷۷۷۳۵
دیزاین : انجنیر محمدجمیل "امیری"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل: erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com